# د ارزاني خوېشکي د کلیات یوه اجمالي تحقیقي جائزه

## A brief research review of Arzani Khweishki 's Kulyat

Issn 2304-1463

Muhammad Daud Arabzai [1]
m.daudarabzai@asa.gov.af

**Abstract**

This article critically examines both the textual structure and thematic content of the Kulliyat of Mulla Arzani. It offers analytical insights into various aspects of his work and presents several suggestions. Mulla Arzani is recognized as the earliest known Pashto poet to have composed a complete divan along with other literary works. He was a disciple of Bayazid Roshan and was later appointed as his first caliph, sent to India to preach the faith of truth. His shrine was recently discovered in the Kasur region of India, in a place known as Patna, and continues to attract many devoted visitors. The article includes a brief biographical overview of Arzani, an introduction to his Kulliyat, a discussion of its structural arrangement, and an exploration of the principles of textual editing. Additionally, it delves into various dimensions of Arzani's poetry.

**لنډیز**

په دې مقاله کې د ملا ارزاني د کلیات په متن او هم یې په منځپانګه کتنه شوې، په ځینو اړخونو یې کره کتنه شوې او هم ځینې وړاندیزونه په کې شوي، ملا ارزاني، د پښتو ژبې لومړی معلوم شاعر دی چې د بشپړ دیوان او نورو اثارو څښتن یې ګڼلی شو، دی د بایزید روښان له مریدانو او بیا وروسته د لومړي خلیفه په توګه هند ته ولېږل شو او هملته یې د حق د دین تبلیغ و کړو، د ملا ارزاني مزار په دې وروستیو کې د هند په قصویر سیمه کې د (پټنه) په نوم ځای کې وموندل شو، چې تر اوسه یې مزار ته خلک ورځي او ډېر عقیدتمندان لري. په دې مقاله کې د ارزاني لنډه پېژندنه، د کلیات پېژندنه، د کلیات د اوډون رویش او د متن سموني په اصولو بحث شوی، د دې ترڅنګ د ملا ارزاني د شعر په بېلابېلو برخو بحثونه شوي دي.

[1] Director of Pashto literature, Academy of Sciences Afghanistan

## سریزه

تر دې دمه چې د څېړنو په برخه کې ګورو نو د ملا ارزاني خویشکي په اثارو او شعري پانګې ډېر څه نه دي لیکل شوي، همدا وجه ده چې ډېر لوستونکي په ځانګړې توګه پښتانه یې له شعر سره اشنا نه دي، که څینې په اړه معلومات لري نو هم ډېر کم بریښي، زما په فکر په داسې لویو او له جوهر نه ډکو شاعرانو په شعرونو ډېرې خبرې په کار دي او د متونو د سپړنې او څېړنې په برخه کې دې لوري ته ډېر پام په کار دی، د خویشکي شاعري ډېر لومړي لاس مواد لري، په دې مانا چې په پښتو کلاسیک پېر کې ارزاني تر ټولو لومړی دیوان لرونکی شاعر دی، د ده شاعري د ژوند د رنګارنګونو ښکلاو ډکه ده او اړتیا لیدل کېږي چې ټول متون یې ښه په ځیر سره ولیدل شي.

## د څېړنې مبرمیت

په دې ډول څېړنو کې موږ کولی شو، چې د ارزاني د شاعرۍ ځانګړنې ژورې وپلټو، د خپلو کلاسیکو شاعرانو په متونو کره کتنه وکړو او په څینو نا څرګندو خواو یې رڼا واچو، په دې چارې سره به د خپلو اسلاف یادونه وشي او هم به لوستونکي وهڅول شي، چې د خپلې دیني او اخلاقي پوهې د لوړولو لپاره د خپلو غوره شاعرانو شعرونه ولولي، همدارنګه زموږ د ټولنې د یو صوفي شاعر د شعر او پېژندنې په تړاو به ډېر اړخونه روښانه شي.

## د څېړنې موخې

په دې څېړنې سره به د ارزاني خویشکي د کلیات په اړه ډېر معلومات له لوستونکو سره شریک شي او هم به د ارزاني د شعر څینې برخې و سپړل شي.

## د څېړنې پوښتنې

۱. ارزاني څوک دی او په کوم ځای استوګن و؟

۲. د ارزاني کلیات د متنپوهنې د کوم اصل له مخې ترتیب شوی دی؟

۳. د ارزاني د مزار په اړه کوم تازه معلومات شته؟

## د څېړنې میتود

د دې مقالې د څېړنې میتود تشریحي، توضیحي دی او هم یې څینې برخې د انتقادي میتود په ردیف کې راځي، چې په کې د کلاسیکو متونو د متن سقلت او نورې ستونزې روښانه کېږي.

## د مقالې متن

د ارزاني د نوم په اړه زموږ څېړونکي بېلابېلې رایې لري، قاضي عبدالحلیم اثر افغاني او پروفیسر افضل رضا د ده نوم عزیز بللی، همېش خلیل په ورکه خزانه کې عزیز بولي، دوست محمد خان کامل د ارزاني نوم عزیر یاد کړی، راج ولي شاه خټک په خپل اثر ادبي تحریکونو کې هم د دوست محمد خان کامل د تحقیق پربنسټ عزیر ګڼي او قلندر مومند یې هم د خیر البیان تنقیدي مطالعه کې عزیر بولي، یوازې استاد هېوادمل په خپل اثر (په هند کې د پښتو ژبې او ادبیاتو د ایجاد او ودې پړاونه) کې یې یوازې په تخلص یاد وي. په اصل کې ټولو محققینو او لیکوالو د عزیر او عزیز په نوم د ارزاني د دې شعر په استناد یاد کړی چې:

دی په خویشکي کې لزیر

د والد نوم یې برهان دی (خویشکی، ۲۰۰۵، ۵۳م)

د لزیر نه یې مطلب د ده د قبیلې یو پښنه زیر زی را وزي خو په یو شمېر قلمي نسخو کې دغه کلمه عزیر او په ځینو کې عزیزلیکل شوې چې دا سمه نه ده. د کلیات په مقدمه کې دا څرګنده شوې، چې ارزاني سړبن دی او په سړبنو کې خویشکی دی او زېرزی د خویشکي زوی دی، چې زموږ ځینې څېړونکي د ده په خېل کې هم تېروتي دي، استاد هېوادمل او همېش خلیل دی عزیز زی ښودلی دی. اصلاً زموږ د څېړونکو د دې ناسمۍ یوه وجه دا ده چې د خویشکي په اولاده کې عزیز زی هم شته نو ځکه یې په اسانۍ سره دا تېروتنه منلې ده، خو که په اصل نسخه کې وکتل شي، د ده خېل زېر زی ښودل شوی.

## د زېږېدنې ځای

د یو لړ اسنادو او اټکلونو له مخې د ارزاني د زېږېدو ځای د پنجاب قصور سیمه کې د کال۹۲۹/۱۵۲۶هـ نېټه اټکل شوې، د مقدمې پربنسټ د ده عمر د پنځه دېرشو نه کم او پنځه څلوېښتو نه زیات ښودل شوی، د حالنامې او اخبار الاولیاء من لسان الاولیا په حواله «دی د قصور سیمې پښتون ؤ او هملته پیدا شوی دی» (خویشکی، ۲۰۰۵، ۶۹م)

## مړینه او مدفن

ملا ارزاني د پیر روښان د طریقت په خلیفه ګانو کې هغه ؤ، چې هندستان ته د حق د توحید د اعلان او پلي کولو په موخه لیږل شوی ؤ، د مقدمې د لیکوال په باور د هند سیمې نه یې مطلب د

ده خپله پلارنۍ سیمه قصور دی، نو دا هم ویلی شوو چې ارزاني خپل وروستی عمر په هند کې تېر کړی او همغلته مړ دی.
د څېړنې له مخې د قاضي عبدالحلیم اثر (د پښتو ژبې پخوانی ادب تاریخ)په استناد چې ((د ده مزار پرانوار په جونپور ښارکې د خپلو نیکونو د مزاراتو سره یوځای نه دی بلکې د محله تاړتله په جامع مسجد کې د مخدوم رکن الدین انصاري په پښو او قدمونو کې دی)) خو دا سند هم کمزوری دی، د مقدمې د لیکوال په زیات باور او د اوربدلي شفاهي سندله مخې په کال ۲۰۰۲م کال کې د بي بي سي نړیوالې راډیو د اردو سروېس د یوې ادبي خپرونې د مېلمه لیکوال او ادیب عبدالخالق رشید د یوې څېړنې له مخې د ده مزار د هند په بهار سیمه کې د (پټنه) نومې ځای کې دی او هلته یې مشهور زیارت دی، د دې مزار په کتیبه باندې د ارزاني د مړینې تاریخ ۱۰۲۸ الیکل شوی دی. معاصره لیکواله صفیه حلیم لیکي: ((د جهانګیر زوی، شاه جهان چې پلار نه باغي شوی و، د ارزاني شهرت نه خبر شو او د ده لیدو ته ورغلو، هغه ورته وویل چې دی به یو وخت د هند پاچا کېږي، شاه ارزاني په ۱۰۲۸هـ، ۱۶۱۹م کې ومړ، شاه جهان په ۱۶۲۸م کې د ډیلي پر تخت کیناستو، هغه په پټنې کې د ارزاني مقبرې، ورسره یو مدرسې او د خانقا جوړولو لپاره زمکه وقف کړه.)) (حلیم، ۲۰۱۹، ویب)، ویل کېږي چې د ده مزار ته اوس هم ګروهمندان ورځي او په کال کې یو ځل په دغه مزار کې پنځه ورځنی عرس (مېله) جوړېږي او ډېر خلک په کې ګډون کوي، چې تر اوسه یې دیارلسم ځای ناستی پروفیسر دوکتور حسین احمد دی، چې د دربار او ورسره د یوې لوېې مدرسې چارې پرمخ وړي.

د کلیات لنډه پېژند

د ملا ارزاني خویشکي دا کلیات د ډاکټر مهجور خویشکي په متن په ۱۱۸۳مخونو کې تدوین شوی او د پېښور پښتو اکاډمۍ له خوا په کال ۲۰۰۵م کې د پرله پسې چاپ په ۵۶۵ شمېره کې د محمد جاوید خلیل په اهتمام په جدون پرنټنګ پریس پېښور کې چاپ او خپور شوی دی.
د ارزاني د کلیات تر لاس لاندې متن له درې قلمي نسخو او د یوې بلې نسخې له نقل یعنې فوټوکاپۍ نه ترتیب شوی. پر کلیات د پښتو اکاډمۍ د مشرې سلما شاهین سریزه راوړل شوې او تر دې وروسته د مدون له خوا یوه لویه او ضخیمه مقدمه حواشي، لغتنامه او تصوفي اصطلاحنامه هم راوړل شوې چې البته د دې کتاب په غنا کې یې پوره ونډه ده.

په دې څېړنه کې مهم ټکي

- ✓ د متن د مرتب کوونکي د ارزاني د نوم په اړه شوې وړاندوينې ټولې رد کړي، څېړونکي دا دواړه نومونه د يو داخلي شهادت پربنسټ غلط بللي، په دې معنا چې ارزاني په ټول کليات کې هر ځای خپل تخلص راوړی، خو نوم يې نه دی ياد کړی.
- ✓ اوډونکی د ارزاني د نسب په اړه هم د ځينو ليکوالو نظريات بې بنسټه بللي مثلاً: ځينو ليکوالو دی په خويشکو کې عزيز زی بللی دی، د دا ثابته کړې چې ارزاني په خويشکو کې زيړ زی دی. دی د مستندو دلايلو سره د نوښار سيمې د خويشکو د زېرزي (خېل) يادونه کوي او دا د يو قوي سند په توګه راوړي.
- ✓ ډاکټر مهجور خويشکي په خپله دغه څېړنه کې د ارزاني د پيدايښت په دې اړه د ډېرې ليکوالو نظريات بې بنسټه بللي او د مزار په اړه يې نوې موندنې لري.
- ✓ په دې مقدمه کې د دوو مهمو ليکوالو لکه د علامه حبيبي او استاد هېوادمل هغه نظريات هم رد شوي چې ګوندې د ارزاني او په لويه کې د روښاني نهضت د يو شمېر شاعرانو په کلامونو کې هنر او فن ډېر تت او يا هېڅ نه شته.ليکوال د ارزاني د يو لړ اشعارو په استناد دا روښانه کړې چې په شاعرۍ کې يې يو څه هنريت او فن شته.

د پورته څېړونکو او د مهجور خويشکي د پلټنو نه راوروسته د ارزاني د شعر د مطالعې نه ماته دا واضحه شوه چې د ارزاني په کلام کې هنريت لږ، خو موضوعي اړخ يې پياوړی دی، په دې معنا چې د ارزاني د شعر متن د نور کلاسيکو متونو په پرتله يو څه ستونزمن او سخت دی، دا متن د ګرامر له پلوه په دې ستونزمن دی، چې په کې د څو ژبو لغات او اهنګونه سره يو ځای شوي دي او بل علت يې د متن لرغون والی دی.

- ✓ په مقدمه کې د ارزاني خويشکي په ځينو اثار هم بحث شوی او په دې کې په مستند ډول د درې اثارو چې هغه ته منسوبېږي، ښودل شوي او د نومړو پوهانو لکه استاد هېوادمل او استاد رفيع له خوا چې کوم اثار د ارزاني بلل شوي، هغه يې په قوي د لايلو رد کړي، په دې مقدمه کې د ارزاني ديوان، د ديوان همدې قلمي نسخې سره يوځای ليکل شوې د نثر رساله او مرات المحققين، د ارزاني اثار بلل شوي.
- ✓ د مهجور خويشکي په وينا چې دا متن تر نورو پښتو متونو ډېر سخت په دې معنا دی، چې دی د پښتو تر ټولو زوړ يعنې څلور سوه کاله پخوانی دی، چې د مختلفو ژبو لکه پارسي، عربي او هندي لغاتو برخمن دی، نو په دې اساس د داسې متن ترتيب او تدوين

خورا ستونزمن کار وي، په دې معنا چې د داسې متنونو او سمهال ډېرې لغات متروک یا له استعماله وتلي دي، د متروکو لغاتو پیدا کول او په هغې ځان پوهول هم تر ډېره بریده کړاو غواړي.

د کلیات د تدوین لپاره د نسخو تاکل

د کلیات د تدوین او متني ترتیب کې چې د کومو نسخو څخه ګټه اخیستل شوې په لاندې ډول دي:

۱) د (پ ن) نسخه: دا نوم ورته د کتاب د متن مرتیب ورکړی، دا نسخه د محمد نواز خټک له خوا د پېښور ، پښتو اکاډمۍ ته ورکړل شوې.

په دې نسخه کې تاریخ، کال او د کاتب الحروف نوم نه دي راغلي او د مخه یا د نسخې د پیل څو پاڼې یې نه شته، خو ارزښت یې په دې کې دی چې د نسخې د غزلو او نظمونو سرلیکونو ته ډېره پاملرنه شوې ده او د هر غزل یا نظم عنوان او په اخر کې د شاعر تخلص یې په سره رنګ سره لیکلی دی، بل ارزښت یې دا دی چې د دې نسخې سره د ارزاني د نثر کوچنۍ رساله هم نښلول شوې. د پېښور د پښتو اکاډمۍ د خطي نسخو په خپاره کړي لیکلړ کې هم را پېژندل شوې ده، ((دا نسخه د اکاډمۍ ۹۳۷-۹۱۱ پرله پسې نمبر ثبت ده، شاعر یې عزیز ارزاني ښودل شوی، چې د ۱۰۱۸هـ کال زړه نسخه ده او په هر مخ کې یې د کرښو شمېر ۱۷او یا ۱۵ دی، د صفحو شمېر یې ۱۶۴دی، رسم الخط یې نستعلیق دی.)) (فهرست، ۲۰۱۱، ۲۹۰م)

۲) د (پ د) نسخه: دا نسخه هم د پښتو اکاډمۍ په کتابتون کې په (۹۱۱ق) نمبر باندې خوندي ده چې پاڼې یې د دواړو لورو نه بشپړې دي او بله ښېګڼه یې دا ده چې تاریخ، کال او د کاتب نوم لري، خو بیا هم نېټه یې نیمګړې ده، مثلا د نسخې په اخر کې راغلي چې (...تحریرفی التاریخ ۲شهر شعبان۱۸...هـ در مقام پونا (ر) کتاب روز سه شنبه بوقت...)

پروفیسر تقویم الحق کاکا خېل د دې نسخې په پاڼو کې د یوه وړوکي کاغذي یادښت په کرښو کې ویلي چې دا سنخه په ۱۰۱۸هـ کې لیکل شوې یعنې د مصنف د وفات نه پنځه یا شپږ کاله وروسته لیکل شوې.

۳) د (ار) نسخه: دا نسخه د پېښور په ارکاګیوز کتابتون کې په ۲۲۶نمبر ثبت ده، په سپین خړ رنګه کاغذ کې په روښاني رسم الخط لیکل شوې، چې د تېرو نورو نسخو په پرتله ډېر مواد لري او هم یې پاڼې بشپړې دي خو نېټه او د کاتب نوم پرې نه شته.

۴) د (ز هـ) نقل: دا نسخه د ښېنوا صیب د هغه قلمي نسخې نقل دی چې د برټش موزیم په کتابتون کې خوندي ده او یوه کاپي یې د استاد زلمي هېوادمل له خوا ډاکټرمهجور خویشکي ته ورکړل شوې ده.

د پورته یادو نسخو پرته د کلیات اوډونکي د یو لړ نورو علمي اثارو نه هم ګټه اخیستې چې په دې برخه کې د دوست شینواري زړه پانګه او ژبپانګه، د همېش خلیل ورکه خزانه او د ارزاني د پنځوسو غزلو مایکرو فلم، چې د پښتو اکاډمۍ په کتابتون کې خوندي دی، ګټه اخستې ده.
مهجور د ارزاني د شعر د یو لړ هغو مشهورو خطي نسخو پېژندنه هم راوړې چې ده ترې استفاده نه ده کړې او یاهم ده ته د متن د ترتیب پر مهال په لاس نه دي ورغلي خو ډېرې مشهورې نسخې دي، لکه د فضل صمداني نسخه چې علامه حبیبي ترې د پښتو ادبیاتو تاریخ دویم جلد کې ځینې شعرونه را نقل کړي دي، د پېښور موزیم نسخه او د قلندر مومند د کتابتون شته قلمي نسخې دي.
دا چې دلته د ارزاني د کلیات پر تدوین بحث کوو نو اړینه ده چې د موضوع د روښانتیا لپاره د زړو نسخو د متن د تدوین په اسلوبو د لاپوهاوي په خاطر د نسخه ښېړنې په درې ګونو رویشونو هم لنډ کی بحث وکړو.

د کلیات د اوډون او سموني ډول

د متن د سمونې لپاره تردې دمه درې ډوله رویشونه موجود دي چې انتقادي، التقاطي(انتخابي) او قیاسي تصحیح په نومونو یادېږي، دلته به یې په لنډ ډول یادونه وکړو.
انتقادي رویش: (انتقادي متن) د ښو نه د بدو جلا کولو په معنا دی، په دې طریقه کې مهم ټکی دا دی چې د امکان په صورت کې متن په اصلي او حقیقي معنا وړاندې شي یعنې متن پرته د تغیر او تبدیله را نقلول او چاپ ته تیارشي ((د انتقادي طریقې مقصد دا دی چې د تصحیح په دې لاره کې د کتابت د تاریخ په لحاظ ترټولو پخوانۍ نسخه اساسي نسخه وګڼل شي.)) (هېوادمل، ۱۳۶۷، ۲۶۸م)
قیاسي روښ: کله چې د یوې قلمي نسخې په متن کې تېروتنې ډېرې وي نو په داسې حالت کې د متني تصحیح لپاره قیاسي رویش ته اړتیاپیدا کېږي((که چېرې د یو متن یوازې یوه خطي نسخه موجوده وي خوځینې برخې یې سمې نه وي دغسې ناسمو په سمون کې هم قیاسي تصحیح ته ضرورت پېښېږي)).
التقاطي (انتخابي) رویش: التقاطي د ښه غوره شوي او چاڼ شوي په معنا دی، د متن دا طریقه د نسخو د شمېر پورې اړه لري چې څومره د یو متن د نسخو شمېر زیاتوي نو بیا دې طریقې نه کار

اخیستل کېږي «په التقاطي طریقه کې د انتقادي طریقې برعکس د نسخو د کتابت تاریخ ته دومره ارزښت نه ورکول کېږي بلکې په دې طریقه کې دا خبره ډېره ارزښتمنه ده چې کومه نسخه بشپړه ده او لږه غلطي لري.» (هېوادمل، ۱۳۶۷، ۲۷۲م) خو دا لار هغه مهال غوره ده چې کله د یوه متن زړه نسخه په لاس را نه شي او کومې نسخې چې موجودې وي، د فني خلکو په اند د ډېر باور وړنه وي.

د ارزاني د کلیات د تر لاسه شوو قلمي نسخو په اړه دا ویلی شوو چې د متن اوډونکي چې کومې درې نسخې تر لاسه کړي، په دې کې د لومړیو دوه نسخو د کال، مهال او کاتبانو په اړه هېڅ وضاحت نه شته، په دریمه نسخه کې یې د کاتب نوم او د پلار نوم یې، د نسخې لیکلو میاشت او ورځ څرګند دي، خو کال یې مشکوک دی.

دا درې واړه نسخې د کاغذ او د لیکنۍ رنګ (سیاهۍ) نه ډېرې زړې برېښي، د وخت په لحاظ یو بل ته نږدې دي، د موادو ترتیب یې هم ډېر سره ورته دی.

د ملا ارزاني د کلیات د متن سمون لپاره مدون د (پ ن) نسخه بنسټ بولي، که څه هم دا سنخه د پیل له برخې نیمګړې ده، خو څکه یې ټاکنه شوې، چې په دې نسخه مصحیح پوره اعتماد او اعتقادلري چې دا ګوندې اصل ته ډېره نږدې ده. ډاکټر مهجور په خپلو څرګندونو کې لیکي چې د دې غټه وجه (د نسخې تحریر او کتابت طرز د خیرالبیان د قلمي نسخې او د پیر روښان د علم د رسالې مطابق ؤ.) نو څکه باوري دی. (خویشکی، ۲۰۰۵، ۲۹ م)

د (پ ن) نسخې د انتخاب نه وروسته دویمه یا مرستیاله نسخه د (پ د) ده. د (پ ن) نسخه که څه هم د اوډونکي په فکر اصل ته نږدې ګڼل شوې، خو نیمګړې ده، یعنې د (الف) نه (دال) پورې پاڼې یې نه شته او د نسخې د بشپړتیا لپاره یې پاتې اشعار د دویمې مرستیالې (پ د) نسخې څخه رانقل کړي دي او بیا یې د یوې بلې دریمې نسخې سره چې د (ا ر) د نسخې په نوم نومول شوې، مقابل او پرتله کړي دي.

د نسخو په اړه د پورته بشپړو معلوماتو نه دا څرګندېږي چې د کلیات اوډونکي د دې نسخې د متن په کتنې او ارزونې کې د التقاطي یا انتخابي رویش نه کار اخیستی دی، اوډونکی په دې اړه وایي «ترکومه چې زما د متن د سمون طریقه ده هغه...التقاطي یعنې انتخابي ده، دا طریقه د متن د مصحیحینو په نذد د ټولونه بهتره طریقه ده.» (خویشکی، ۲۰۰۵، ۲۹ م) له دې پرته د یوې بلې نسخې د نقل یا کاپۍ نه هم ګټه اخیستل شوې چې په دې حساب دغه نقل څلورمه نسخه بللی شوو.

کلیات ته لنډه کتنه

په دې کلیات کې کوښښ شوی چې املایي تېروتنې په کې تر ډېره حل شي، خو بیا هم په ځینو ځایونو کې یې تېروتنې لیدلی کېږي، په دې به هم بحث وکړو، خو دلته به د کلیات د نورو اړخونو په اړه همدېر څه د ویلو دي، د بېلګې په ډول د ارزاني شاعري په لنډ بحر کې ده او هر بیت یې د یو بل پسې را وستل شوی، که چېرې دویم نیم بیتی د لومړي مخ په مخ راوړل شوی وای، نو د کتاب حُجم یا زخامت به کم شوی و او بله دا چې شاعر ځکه د شعر لپاره لنډ بحر ټاکلی دی چې د شعر د مطلب او افاده لپاره دا لار ډېره اسانه ده، خو زما په فکر په ټول دیوان کې یو نواخته څپې د لوستونکي زړه تنګوي او ښه به دا وای چې په بېلابېلو څپو کې یې د شعر بېلګې موجودې وای. په ټاکلي څپیز سیستم کې شاعري دا تاوان لري، چې موضوع په لږو شعرونو کې نه بیانېږي، شاعر اړ دی چې د خپل مطلب د پوره بیان لپاره د بیتونو شمېر ډېر کړي.

په زړو متونو کې دا وایي چې شاعر د ځینو کلمو د پوره افادې لپاره له زور او زېر نه هم کار اخلي، خو زموږ د نوي دور کاتبان زاړه متون په هغه ترتیب نه رانقلوي او د زور او زېر راوړلو چنداني پروا یې نه کوي، نو همدا وجه ده چې ځینې ځای د کلمو په بل ډول لوست سره د شاعر د شعر قافیه او یا ردیف زیانمن شي، د ارزاني په شعر کې هم موږ دغې ستونزې سره مخ کېږو، له دې پرته په ځینو ځایونو کې یې قافیه او ردیف سره توپیر لري، لکه په لاندې څو بیتونو کې:

ته باور په دا ګفت راوړه
چې له ابه شي یخ واوره
که دا ته د آب طالب یې
آب دې پټ دی، ستا په خاوره (خویشکی، ۲۰۰۵، ۶۷۷م)

په پورته څلوریزه کې، قافیه د (راوړه، واوره، خاوره) په کلمو کې ده، چې سره توپیر لري، قریب المخرجه کلمې دي، خو بیا هم د قافیې عیب یې ګڼلی شو، شاعر ورته د هم قافیه بله کلمه نه ده پیدا کړې او د هغه په ځای یې (راوړه) په کې ور ځای کړې ده.

د ملا توري مشکنې
یوې دین شه، بل یې دینې
مرغلرې یې کړې برتې
دین دنیا یې شو پردل غنې (خویشکی، ۲۰۰۵، ۶۸۱م)

دلته اصله قافيه (مشکنې) ده، خو دا چې شاعر ورسره دوه نورې کلمې راوړي چې د پورته کلمې سره هم قافيه نه دي، (دينې، غنې) د (مشکنې) سره هم قافيه نه دي، نو ځکه يې د قافيې عيب ګڼلی شو.

د مرګ توغ راغلی دوغ دی
هم پرې باز بند هم وروغ دي
مرګ د تن شير(ښه) شاربلی
روح يې غوړ ببل، د تن له دوغ دي (خويشکی، ۲۰۰۵، ۵۹۷م)

په پورته څلوريزه کې (دوغ، وروغ، دوغ) د قافيې په ډول راغلي، خو زما په فکر په دې شعر کې يو ځای (دوغ) د شړومبو، شوملو په معنا دی او بل ځای (دوغ) راته پروفي تېروتنه ښکاري، ځکه چې همدا قافيه په بل ځای کې خويشکي کارولې ده او هلته د يو ځای (دوغ) پر ځای (دروغ) قافيه راوړل شوې ده.

يو رښتيا دي، بل دروغ دي
رښتيا غوړ دروغ يې دوغ دي
په رښتيا توتي ګويا دی
دا دروغ لکه تور وروغ دي (خويشکی، ۲۰۰۵، ۵۷۸م)

د پورته شعر په دويم بيت کې (وروغ) د وراغ، ورغه، کارغه او زاغ په معنا دی، خو که د قافيې عيب له پلوه د ارزاني شاعري وپلټل شي، نو دا ډول ستونزې په کې ډېرې شته، چې دلته يې يوازې لنډه يادونه وشوه. د ده په شعر کې داسې قافيې هم ليدل کېږي چې په هماغه يوه شعر کې تکراري راغلي وي، خو معنا يې سره توپير لري، په دې ډول قافيې که په کليات کې ولټول شي نو ډېرې زياتې دي لکه په لاندې درې څلوريزو کې:

دا زړګی په مثل طاق دی
دغه طاق د حق هوتاق دی
مخلوقات يې (ټول) جفت جفت که
دا خالق حقيقي طاق دی (خويشکی، ۲۰۰۵، ۶۸۶م)

په پورته څلوریزه کې د طاق کلمه څو ځل راوړل شوې، چې هر طاق يې بېله معنا لري، لومړی (طاق) د طاقچه، تاخچه، تاقچه په معنا دی، وروستی (طاق) د بې مثل، مفرد، يوازې او يو په معنا دی.

پر ملا دی ژمی، منی
شريعت يې دی پلمنی
طالب د پسرلي ګل دی
لکه د شاه د غاړې منی (شينواری، ۱۳۶۳، ۱۲۲م)

په پورته شعر کې د (منی) کلمه دوه ځايه راغلې، چې هر يوه يې بېله معنا لري، لومړی (منی) د څلور موسمونو نه د يوه نوم دی، دويم (منی) د فخر، لويي، د شاه (پاچا) د غاړې هار په معنا دی، (پلمنی) د پمني، پمنکي په معنا دی، چې يو ډول ترخه سابه دي او په غرونو کې کېږي.

چې پرې مخ ګورې هغه چشم
ګوندې شي د پير په چشم
ته يې بند په دا خبره
چې به څه خورم څه به چشم (خويشکی، ۲۰۰۵، ۶۸۸م)

په پورته څلوريزه کې درې ځايه (چشم) سترګې راغلي دي، لومړی چشم، د ليد سترګې، چې موږ پرې حقيقي نړۍ وينو، دويم (چشم) د عينکو يا سترګيو په معنا دی، دريېيم (چشم) د څکم، څکلو يا څښلو په معنا دي، که موږ وګورو نو د ارزاني په شعر کې دا ډول هم شکله معنا لرونکي کلمې ډېرې راغلي، خو د لته مو يوازې څو بېلګې راوړې. همدارنګه که وګورو نو ارزاني په ټولو کلاسيکو شاعرانو کې لومړی هغه دی چې په خپلو شعرونو کې يې تاريخي مادې راوړي دي، د بېلګې په ډول به يې دلته درې را واخلو:

لومړۍ بېلګه
فقير کوښلی دی دا شعر
په نهه صد، نود سنه دی (خويشکی، ۲۰۰۵، ۹۷۸م)

دويمه بېلګه
ارزاني دا کلام کړی
په الف تسعه سنه (خويشکی، ۲۰۰۵، ۲۰۶م)

دریمه بېلګه
ارزاني وینا کړه عرض
اشنایي د حق ده فرض
د دې عرض تاریخ وغواړه
په حساب له حرفه یرض (خویشکی، ۲۰۰۵، ۶۷۴م)

په پورته شعرونو کې لومړۍ بېلګه کې ۹۹۰هـ ق، په دویمه کې ۱۰۰۹هـ ق او په درېیمه بېلګه کې ۱۰۱۰هـ ق نېټې راځي، له دې معلومېږي چې ارزاني دا شعرونه په همدې څرګندو کړو نېټو کې ویلي دي، په کلیات کې یې ډېرې نورې تاریخي مادې شته، خو دلته به یې همدا بسینه وکړو.
ارزاني خویشکي په خپلو شعرونو کې ډېر ځایه د افغان او پښتون کلمې راوړي دي، د ده په کلیات کې د لومړي ځل لپاره د افغان کلمه ډېر ځایه راغلې، چې دلته یې د بېلګې په ډول اخلو:

د فقیر زړګی تار تار دی
زړه یې کړی دا ګفتار دی
دا ګفتار در دي پېیلي
افغاني سپڼی یې تار دی (خویشکی، ۲۰۰۵، ۶۸۴م)

که طالب یې مقصود غواړه
له دې افغاني بیانه
یو در د طلب بس دی
له دې افغاني دیوانه
دا پښتو خبره واوره
له دې ارزاني افغانه (خویشکی، ۲۰۰۵، ۳۳۰م)

همدارنګه په کلیات کې موږ ډېرې غوره رومانوي د طبیعت نښې هم موندلی شوو، د بېلګې په ډول به لاندې ورته لنډه کتنه وکړو.

د شب پرک خوښه تیاره ده
ځکه تښتي له افتابه (خویشکی، ۲۰۰۵، ۱۹۱م)
په پورته بیت کې ظاهري معنا دا ده چې شب پرک د شپې ګرځنده مخلوق دی او د ورځې د لمر رڼا ته نه شي ګرځېدی، دا ډول انسان هم د خدای له وحدانیت او الوهیت منلو پرته د زړه سکون نه شي موندلی، شب

پرک ګرځېده، د تصوف په حلقه کې د ګمراهۍ او تورو تیارو ته نغوته ده او لمر یا افتاب د رڼا یا د حق د لارې موندلو سمبول دی.

په قدرت غیبي ترځځه
رغوینه، نر او ښځه
په هر کس یې امر کړی
بدي مه کړه، ته په ښه ځه (خویشکی، ۲۰۰۵، ۵۱۴م)

په پورته بیتونو کې شاعر د انسان طبیعي خلقت ته اشاره کړې ده، چې الله پاک خپل بندګان په تن برابر خلق کړي دي او په دویم بیت کې یې د الهي معرفت د اخلاقو ذکر کړی دی، چې په خپل خلقت د رب شکر ادا کړئ او د یو خدای پر لاره سم لاړ شئ.

دا وینا د زړه له کښته
لکه درکا فقیر غښته
چې پرحق به، ناحق وایي
غاښ یې وباسه په خښته (خویشکی، ۲۰۰۵، ۵۴۲م)

په دې کې د مسلمان د نفس پاکي بیانوي او د حق د لارې پلټونکي ته لارښونه کوي، چې د ځینو لارښودانو په ناروا ویناو، فریبونو او دسیسو مه تېروځئ، بلکې په هماغه ځای ورته سنګین ځواب ورکړئ.

ستا دا زړه د حق څراغ دی
د دنیا طالب تور داغ دی
دا رښتنی دل هغه دی
چې له بل له است فراغ دی (خویشکی، ۲۰۰۵، ۵۴۳م)

په پورته بیتونو کې په الهي مینې مین زړه یا هغه زړه چې تارک دنیا وي، د څراغ سره تشبیه شوی، د دنیا غوښتونکی او طلبګار د تور کارغه سره، چې ظاهراً، د دنیا مینه باطله ده او د الهي مینې د کثرت نه منع کوونکې ده، نو پرته له دې چې د حرامو پر لار لاړ شې او خپله خېټه ځان ته جهنم وګرځوې، بل څه نه شي کېدای.

بيا د پاک نفس او زړه پېژندنه کوي، چې هغه زړه سوچه او رښتينی دی، چې پرته د الله د مينې نه نور له هر څه فارغ وي او يوازې په الهي مينه مست وي، دا زړه له خوشحالو ډک او د دنيا له غمونو په امان هم دی.

د ملا ارزاني منظوم متونو کې د پښتو ډېر نګه وييونه هم شته او د لغوي پانګې له دې اړخه يې شاعري بډايه ده، دلته يې څو بېلګې را اخلو:

وکسه: د کسه په بڼه د کلاسيکو شاعرانو لکه ميرزاخان انصاري، خوشحال خان خټک، حميد مومند او اکبر بارکزي په شعرونو کې شته، وکسه د وګوره او کسه د ګوره په معنا دی.

د زړه آيينه کړه پاکه

دا خپل مخ په کې وکسه (خويشکی، ۲۰۰۵، ۲۷۰م)

نغوره: په لرغونو متونو کې د ښکارندوی په قصيده کې شته، په روښاني پېر او له هغه را وروسته شاعرانو په متونو کې هم راغلی دی.

په بر بڼ چې ږغ د چونهو نغوربده شي

ته وا چندي سره پيو دي اشلوکونه (بن داود، ۱۳۳۹، ۵۲م)

د فقير وينا ونغوره

خبرې وکاږه له غوره

خپل مقصود دې، دی په کور کې

په مقصود پسې وګوره (خويشکی، ۲۰۰۵، ۲۴۹م)

يون: په لرغونو متونو کې د شيخ تيمن په شعر کې شته او د کلاسيکو شاعرانو په شعرونو کې هم ډېر راغلی دی، ارزاني خويشکي په خپلو شعرونو کې راوړی دی.

نه به شهی راته پخلا سي

بېلېږي پېر يې اوس د يون راغی (بن داود، ۱۳۳۹، ۶۴م)

پر دا لار به هغه يون کا

چې بنده د نوس خرجي ده (خويشکی، ۲۰۰۵، ۲۴۸م)

مېښل: د طی کول په معنا، زياتو شاعرانو په خپلو متونو کې راوړی دی. مېښل ويی د خوشحال، حميد، بېدل او سعيد په شعرونو کې تر سترګو کېږي. وڅېښ، په کلاسيکو متونو کې د (څښل،

ثښې، چښې) او نور ښو راغلی، خو ارزاني د (وثښې) په ډول راوړی دی. وکښې، خوشحال، حمید او بېدل په شعرونو کې راوړی دی.

چې الف د حب مې، وثښې
د خپل ګنج خرمن یې و مښې
چې مقصود یې د میم لوني
له دغه ګنجه یې را وکښې (خویشکی، ۲۰۰۵، ۸۰۷م)

د چندنو په دود مښې شه
او د شهد په دود ثښې شه
د الف په دود سم کښې شه
د غفلت له خوبه وښې شه (انصاري، ۱۳۵۴، ۲۵۶م)

وربشل: ورتل هم ورته وايي، زموږ په کلاسیکو متونو کې د مېرزاخان انصاري او خوشحال خټک په اشعار وکې راغلی او ارزاني تر ټولو دمخه کارولی دی. په دې شعر کې نور وییونه لکه وبشلی، لس او شلی هم راغلي دي، چې د پښتو نګه وییونه ګڼل کېږي.

کل تاینې دی حق وربشلی
په قسمت یې دی وبشلی
ستا په برخه نوره نه کا
که په لس یا که په شلی (شینواری، ۱۳۶۳، ۱۵۵م)

د بیتا اسم به هاله په کمال راشي
چې د ښو په کرتو وربشي تر باپه (انصاري، ۱۳۵۴، ۱۱۰م)

پېیل: په مخزن الاسلام، د میرزاخان انصاري په دیوان کې او هم د ملا ارزاني په شعرونو کې راغلی دی، خوشحال هم کارولی دی.

یو عجیب ښایسته منی یې پېیلی
چې هزار و یک یې لړانه کړېنه (انصاري، ۱۳۵۴، ۱۹۵مخ)

دا دنیا دینه پهلونه
فقیر هار کړه په ولونه

چې فقیر دینه پېيلې
کل د کل دینه ګلونه (خویشکی، ۲۰۰۵، ۸۲۹م)

په دې توګه که وکتل شي نو د ملا ارزاني شاعري د پښتو له نګه وییپانګې بډایه ده او که څوک غواړي چې د پښتو زړه پانګه وپلټي نو ضرور دې د ارزاني شاعري مطالعه کړي. د دې تر څنګه د ملا ارزاني شاعري ډېر ښه ترکیبونه لري، لکه د غم ور، د غم اوښې څڅول، د غم غانښ، د دم تیزندی، د مرګ وانښه، د مرګ خواړه، د مرګ غانښ، د څمکې سپین لاس، د دل دانه، د قهر شونډې نغاړل، سپین څوباړی، شین ایوان، د غرفان توغ ولاړول، تور غبار پر څمکه او نور هم لري، چې دلته پرې بحث موضوع اوږدوي او یوازې یادونه به یې بس وي

پایله

د ډاکټر مهجور خویشکي د متنپوهنې او سمونې په برخه کې دا کړاو په ډېره درنه تلل په کار دي، څکه چې د متن مصحیح په خپل کړي کار کې ډېر زیار باسلی او پوره سترپا یې دا ستونزمن متن تیار کړی دی.

د مقدمې لیکوال د خپل کار د رویش په تشریح کې دا څرګنده کړې چې، د متن په تیارولو کې یې له ډېرو معتبرو ماخذونو ګټه اخیستې او هم یې د متنپوهنې له مشهورو استادانو سره سلا مشورې کړي او د خپل کار په رغښت کې یې ترې مشورې اخیستي دي.

مرحوم مهجور خویشکی په کوزه پښتونخوا کې د متنپوهنې په برخه کې غنمیت شخصیت و، چې کړي کارونه یې له چا پټ نه دي، زما د مطالعې له مخې چې نوموړي د ارزاني خویشکي دا متن تیار کړی، د متنپوهنې د اصولو په رڼا کې لوستی او د ملا ارزاني په اړه یې ډېر تیاره اړخونه روښانه کړي دي، لومړی خو دا چې د ټولو یادو نسخونه یو باوري متن تیارول، د هغه د نوم په اړه د لیکوالو ناسم افکار روښانه کول او د متنپوهنې په رڼا کې د څو نسخو له مخې د متن برابرول ډېر سخت کار دی، خو دا چې زموږ متنپوه پرې پوره خواري کړې او بریالی زیار یې باسلی، نو دا زما په نظر یوه ښه لاسته راوړنه ده. د ارزاني د مزار په اړه وروستي او کره معلومات را پیدا کول، د ارزاني د څینو اثارو په ګوته کول او کره کول او هم د مخزن الاسلام د څینو سندونو په لاسوندي ډول ردول هم د دې کلیات د مقدمې برخه ده، همدارنګه ویلی شو چې د ملا ارزاني په کلام کې ډېر څه شته او په کار ده چې د یوې څانګړې پروژې په ډول یې متن وکتل شي او په څینو اړخونو یې سپړنې وشي.

ماخذونه

۱. انصاري. میرزاخان. (۱۳۵۴ل). د میرزاخان انصاري دیوان. سریزه او لمنلیک، دوست شینواری. کابل: پښتو ټولنه.

۲. شینواری، دوست. (۱۳۶۳ل). زړه پانګه. کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي. د پښتو څېړنو نړیوال مرکز.

۳. بن داود ، محمد هوتک. (۱۳۳۹ هـ ش). پټه خزانه، دویم چاپ. کابل: د پوهنې وزارت. د دار التا ٔلیف ریاست.

۴. رښتین، صدیق الله. (۱۳۹۱ل). د پښتو ادب تاریخ. څلورم چاپ. جلال اباد: مومند خپرندویه ټولنه.

۵. حلیم، صفیه. (2019م). ((د هندستان پښتانه)). لاسرسی. http://www.safiahaleem.com=5752. د مراجعې نېټه: ۱۵/۶/ ۱۴۰۴ل کال.

۶. حبیبي، عبدالحی. (۱۳۸۴ل). د پښتو ادبیاتو تاریخ. لومړی او دویم ټوک. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

۷. خټک، عارف نسیم او عبدالحمید. (۲۰۱۱م). فهرست مخطوطات پشتو اکېډمي. پېښور پوهنتون: جدون پرنټنګ پرېس.

۸. خویشکی، ارزاني. (۲۰۰۵م، جون). د ارزاني خویشکي کلیات. د پرویز مهجور خویشکي سمونه او څېړنه. پېښور: پښتو اکاډمي. پېښور پوهنتون.

۹. هېوادمل، زلمی. (۱۳۶۷ل). د متن څېړنې مېتودولوژي. دویم چاپ. کابل: انتشارات امیري.


**Referins**


1. Insari. Meyeerzakhan. (1354). Da Meyeerzakhan Insari Deyeewan. Saryeeza Ao Lmanlyeek, Dost Shyeenwari. Kabal: Pakhto Tolana.

2. Shyeenwari, Dost. (1363). Zara Panga. Kabal: Da Afghanstan Da Aulmo Acadmee Da Pakhto Serno Naryeewal markaz.

3. Bein Dawood, Mohmmad. (1339). Pata Khazana, Doyeem Chap. Kabal: Da Pohani Wazarat. Da Darulta leef reeast.

4. Rekhtin, Sedeeq Ullah. (1391). Da Pakhto Adab Tareikh. Saloram Chap. Jalal Abad: Mohmand Khprandoya Tolana.

5. Halyeem, safiah. (2019). ((Da Heendustan Pakhtana)). http://www.safiahaleem.com=5752. Da Morajee Neta: 15/6/ 1404.

6. Habibe, Abdulha. (1384). Da Pakhto Adbiato Tarikh. Lumri aw Dwhama tok. Pekhawar: Danish Khaprandoya tolana.

7. Khatak, arif Nasyeem Ao Abdulhameed. (2011). Feihrst Makhatotat Pashto Acideme. Pekhawar Pohnton: Jadon Prentang Pres.

8. Khweshky, Arzani. (2005, Jon). Da Arzani Khweshkee kuliat. Samona Ao Sirana. Da Parwyeez Majjwr Khweshky Pekhawar: Pakhtwacadmee. Pekhawar Pohantun.

9. Hewadmal, zalmy. (1367). Da Matn Simi Methadalogy. Doham Chap. Kabul: Intesharat Amyeeri.